# په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې قرآن زده کړي او نورو ته يې وښايي

عثمان رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي، چې هغه وفرمايل: "په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې قرآن زده کړي او نورو ته يې وښايي".
[صحيح] [بخاری روايت کړی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې په مسلمانانو کې تر ټولو غوره او د الله جل جلاله په نزد هغه څوک تر ټولو د لوړې مرتبې خاوند دی چې قرآن کريم په تلاوت کولو، حفظولو، ترتيل، پوهېدلو او تفسير سره زده کړي او نورو ته هغه څه وروښايي چې لده سره له قرآني علومو څخه دي او عمل پرې وکړي.